*د نړیوالې مذهبي ازادۍ په اړه د متحده ایالتونو کمیسیون (USCIRF)  د بهرنیو چارو د وزارت څخه یو جلا او منفرد وجود دی. دا د امریکا د کانګرې له خوا تخلیق شوی دی ، او د متحده ایالتونو د دولت یو خپلواکه ، دوه ګوندیزه  مشورتي ډله ده چې په ټوله نړۍ کې د مذهبي ازادۍ څارنه کوي او ولس مشر ، ایالتي سیکتر ، او کانګرې ته د تګلارې په اړه توصیې ورکوي. یو ایس سي آیی آر ایف (USCIRF) دغه توصیې زمونږ د قانوني قیمومیت او د بشري حقونو په  نړیوالې اعلامیه کې د موجود معیارونو او نورو نړیوالو اسنادو پر اساس ورکوي. د 2016  کلنی راپور د کمیشنرانو او مسلکي عملې له خوا د دې سند پر ناوړه کارونې د یو کلیز کار بشپړتیا وړاندې کوي او د متحده ایالتونو دولت ته د تګلارې خپلواکه توصیې ورکوي. د2016 کلنی راپور له فبروري 1 ، 2015 څخه تر فبروري 29 ،2016 مودې احاطه کوي که څه هم په ځینو حالتونو کې د هغه مهمو پیښو یادونه کوي کومې چې د دې مودې څخه وروستو رامنځته شوې وي.*

**افغانستان**

**مهمې موندنې:** د افغانستان بشپړ ثبات او امنیت په تیر کال کې د افغان طالبانو د بیا پاڅون او عراق او د لیوانټ د اسلامی ریاست (ISIL) او القاعده په ګډون د نورو افراطي ډلو د زیات شوي فعالیتونو له کبله په مهم ډول خراب شوي دي. د دغه ډلو سخت دریځه ایډیالوژۍ او بریدونه ټولو افغانانو ته ګواښ رامنځته کوي ، خو شیعه مسلمانان ، هندوان ، او سیک لږکي په خاصه توګه په خطر کې دي ، او کوچني عیسوي او بهایي ټولنې په خطر کې دي. پر شیعه مسلمانانو افراطي بریدونه په 2015 کې زیات شوي دي. سره له نړیوالې مرستې د هڅې افغان دولت هغه وړتیا نه لري چې خپل ملکیان له بریدونو څخه وژغوري. برسېره پر دې ، د هېواد اساسي قانون او نور قوانین د مذهبي ازادۍ یا ګروهې نړیوالو معیارونو څخه سرغړونه کوي. د دې اندېښنو پر اساس ، په 2016 کې USCIRF بیا افغانستان په ټایر 2 کې اچوي چیرته چې دی له 2006 راسې شتون لري.

**پس منظر**

د افغانستان نفوس د اټکل له مخې 32.5 میلیونه دی. د اټکل سره سم 84 څخه تر 89 سلنه په کې سني مسلمانان دي ، او 10 څخه تر 15 سلنه په کې شیعه مسلمانان دي. سیکان ، هندوان ، عیسویان ، او نورې مذهبي ډلې په ګډه له یو سلنې څخه ټیت دي. که څه نفوس په مذهبي توګه یو ډول دي ، دا په توکمیزه توګه ډول ډول دي. د متحده ایالتونو د شمېرو سره سم د افغانستان نفوس 42 سلنه پښتانه ، 27 سلنه تاجک ، نهه سلنه هزارګان ، نهه سلنه ازبک ، درې سلنه ترکمن ، دوه سلنه بلوڅ ، او اته سلنه نورې ډلې دي.

د ولسمشر اشرف غني د اجرائیوي رئیس (CEO) عبدالله عبدالله په مشرۍ کې په سپتمبر 2014 کې جوړ شوی حکومت د دې وړتیا نه لري چې د هغه توندرو افراطي ډلو پرضد عملیات وکړي کومې چې حکومت ، نظامي اردو ، ملکیان ، او د متحده ایالتونو او ناټو قواوې په هدف کې نیسي. سره له اوږدمهاله نړیوالې عسکري هڅې طالبانو په افغانستان کې خپل توان او طاقت پراخه کړی دی. تر جنوري 2015 طالبانو په هېواد کې شاوخوا 30 سلنه په خپله ولکه کې اخیستې وه ، کومه چې له 2001 راهیسې زیاته سیمه ده. د بشر دوستۍ د چارو د همغږۍ لپاره د متحده ملتو د چارواکي (OCHA) د وېنا سره سم ، د 2015 د اګست او اکتوبر ترمنځه د 2014 د ورته مودې په پرتله د طالبانو بریدونه 19 سلنه زیات شوي دي. د طالبانو پر ضد د افغان دولت هڅې د خپل اندروني بې ثباتۍ ، برخې برخې شوي پولیس ، عسکري ، او استخباراتي قوې ، اداري فساد ، او د بې توانه اقتصاد له کبله په مهم ډول درول شوي دي.

په دې صورت کې له هرې ګروهې او توکمیزو ډلو څخه افغانان په زیاتېدونکي ډول له خپلو کورونو او هېواد څخه تښتي. OCHA راپور ورکوي چې د 2015 د جنورۍ او نومبر ترمنځه له 300,000 څخه زیات افغانان په زور بې کوره کړل شوي دي کومه چې په 2014 کې د ورته مودې په پرتله 160 سلنه زیاتوالی دی. په مجموعي توګه ، شاوخوا یو میلیون افغانان په هېواد کې دننه بې کوره شوي دي ، او 2.6 میلیونه په دې خطه او له دې بهر مهاجر دي. د اروپایي اتحاد د شمېرو له مخې ، شاوخوا 150,000 افغانان ، چې زیات شمېر په کې شیعه مسلمانان دي ، له 2015 راسې یې په اروپا کې پنا وړې ده. افغانان په جنوبي آسیا کې نورو هېوادو نو او استرلیا ته هم تښتي.

**د مذهبي ازادۍ وضعیتونه 2015-2016**

***آیيني او قانوني ستونزې:*** د افغانستان اساسي قانون په دې کې په دوام سره پاتې راغلی دی چې د نفر د مذهب او ګروهې ازادۍ حق خوندي کړي د کومو تضمین چې د بشري حقونو نړیوال قانون ورکړی دی ، کوم چې یوازې دا شرط وړاندې کوي چې غیرمسلمه "د قانون د شرطونو په محدودیتونو کې دننه خپل مذهبي دودونه ترسره کولو ازادي لري." د مسلمانانو لپاره د مذهب یا ګروهې د ازادۍ خوندي کولو کوم تضمین نشته. اساسي قانون بیانوي چې اسلام ریاستي مذهب دی ، او دا چې د افغانستان کوم قانون باید د اسلام د عقایدو او شرطونو پرضد نه وي. دا قانوني ماده د افغانستان دولت او مذهبي ملایانو له خوا په داسې طریقو توضیح کړل شوې ده کوم چې مذهبي ازادي او د رای څرګندونې ازادي محدودوي. د هېواد د جزا قانون محکمو ته دا پرېښله ورکوي چې په هغه قضیو کې شرعي قانون ته مراجعه وکړي کومو کې داسې ستونزې وي چې نه د جزا قانون او نه اساسي قانون په ښکاره ډول د هغې کوم توضیح کوي ، لکه د مقدساتو بې حرمتي ، او ارتداد ، داسې تورونه دي چې سزا یې مرګ ده. هغه مذهبي مشران چې ترشا یې ریاست ولاړ دی او قضایي نظام دا طاقت لري چې د اسلامي اصولو او شرعي قانون توضیح وکړي او خلک یې تعمیلولو ته اړباسي. دغه په ځینو وختونو کې د مذهبي کلکې عقیدې اختیاري او ناوړه توضیح لپاره زمینه برابروي. د 2004 د سنیو قانون هغه لیکنې غیرقانوني ګرځوي کومې چې غیراسلامي دي ، او پر دې اساس ژورنالیستان او نور توقیفوي.

***د غیرمسلمو لپاره حالات:*** هندوان او سیکان په دوامداره توګه د توپیر او ځور او په ځینې وختونو کې د تېري سره مخامخ دي ، سره له دې چې د عامه عبادت ځایونو کې د خپلې ګروهې تعمیلولو پرېښله ورکړل شوې ده او د ولسمشر د ګومارنو له لارې په پارلمان کې نمایندګي ورکړل کیږي. د لسیزو راسې شخړې او اداري او ټولنیز توپیر په افغانستان کې د دغه ټولنو غړي په مهم ډول راټیټ کړي دي. د 2015 په جنورۍ کې ، د افغانستان د سیکانو او هندوانو غیر دولتي کاونسل دا راپور ورکړی و چې د سیکانو نفوس له 1,000 کورنیو څخه ټیټ دي او دا چې ټول هندوان له هېواد څخه وتلي دي. د دې په پرتله ، 40 کاله وړاندې په افغانستان کې د سیکانو او هندوانو شاوخوا 50,000 کورنۍ میشت وې. د کابل په اته ګوردوارو کې یوازې یوه فعاله ده.

د عیسویانو کوچنۍ ټولنه په ډاګه عبادت نه شي کولی او له طالبانو او نورو افراطیانو له خوا له برید د خطر سره مخامخ دي. د 2014 په جون کې طالبانو پادري الیکسیس پریم کمار تښتولی وو چا چې د جیسوټ کډوالو د چوپړو مشري کوله. دی د 2015 په فرورۍ کې خوشی کړل شو. په هېواد کې یو معلوم کلیسا د اتالوي سفارت پر مځکه خپل فعالیت ته دوام ورکوي. په دې ویل شوې مودې کې په افغانستان کې د عیسویانو د توقیف کوم راپورونه نشته خو زیاتره ویل کیږي چې هند ته تللي دي. د افغانستان لږکۍ بهایي ټولنه د ارتداد ژوند کوي. د فتوو او شمیرنو د عمومي ریاست له خوا یو فرمان بهایي ګروهه کفر وباله او دې ډلې ته بدل کېدونکي مرتدان وبلل.

**د کفر د تورونو پرسر تشدد:** د 2015 په مارچ کې په کابل کې یوې پارېدلې ډلې یوه مسلمانه ښځه فرخنده ملک زاده په ډاګه او په بې رحمانه توګه ووژله وروسته تر هغې چې یو محلي مذهبي مشر په ناحقه پر هغې د قرآن سوزولو تور ولګاوه. د دې پېښې ګرافیکي ویدیو کومې چې په ټوله نړۍ کې په سرلیکونو کې وښودل شوه ، یو شمېر پولیس چارواکي وښودل چې د هغې د مرستې هڅه یې کوله او نور نږدې ولاړ وو کوم مهال چې یوې ډلې هغه په لغتو وهله ، پر هغې یې موټر وروخېژاوه او اور یې ورته ولګاوه. که څه هم ګڼ شمېر مذهبي مشرانو او دولتي چارواکو په ابتدایي توګه د یوې تورن شوې کافرې وژنه وستایله ، د هغې د مړینې په دوه ورځو کې دننه او د عامه خلکو له قضایي چارو لپاره احتجاج څخه وروستو د حج او مذهبي چارو وزارت اعلان وکړ چې دا بې ګناه وه. په ګډون د 19 پولیس چارواکو شاوخوا 50 تنه د 2015 په می کې محاکمه شول. په تورن شویو ملکیانو کې څلور د مرګ پر سزا محکوم کړل شول ، اته 16 کلنۍ زندان ته ولېږدول شول ، او 18 بې ګناه اعلان کړل شول. د پولیسو له چارواکو څخه 11 د یو کال د زندان په سزا محکوم کړل شول او اته خوشي کړل شول. د 2015 په جولای کې ، د استیناف محکمې د مرګ څلور سزاګانې بدلې کړې او د دې پر ځای یې له دغه سړیو څخه درې د شل کلنۍ زندان ته ولېږل او یو چې له 18 کلنۍ څخه ټیټ و ، د 10 کلنۍ زندان ته ولېږلو.

**د متحده ایالتونو تګلاره**

افغانستان له یوې لسیزې څخه زیات وخت راهیسې په جنوبي اسیا کې د متحده ایالتونو د بوختېدنې مرکز ګرځېدلی دی. د متحده ایالتونو حکومت هڅې د یو باثباته افغانستان پر جوړولو او د افراطي ډلو سره جګړه کولو ته خپله پاملرنه ورکوي. متحده ایالتونو د افغانستان د 2014 زیات مسابقه کېدونکي ولسمشریزې ټاکنو حلولو لپاره دلالي وکړه د کومې په نتیجه کې چې اوسنی حکومت رامنځته شوی دی.

په 2015 کې متحده ایالتونونه او نړیوالې قواوې د جګړې له هدف څخه روزنیز هدف ته انتقال وکړ ، که څه هم د متحده ایالتونو قواوې اوس هم پرېښله لري چې د جګړې فعالیتونه ترسره کړي. د ولسمشر غني په غوښتنه او زیاتره د طالبانو د بیا راپورته کېدو له امله د 2015 تر پای شاوخوا تر 5,000 نفرو خپله قوه راټیټولو په اړه د ولسمشر براک اوبامه د هدف د 2015 په اکتوبر کې بیاکتنه وکړل شوه. د یادې شوې مودې تر پایه په افغانستان کې د متحده ایالتونو شاوخوا 10,000 عسکر شتون لرلو کوم چې به لږ تر لږه د 2016 په اوږدو کې په هېواد کې موجود وي.

څلور اړخیزه انسجام ډله (متحده ایالتونه ، پاکستان ، چین ، او افغانستان) د افغانستان د دولت او طالبانو ترمنځه د روغې جوړې خبرو لپاره د نوي چوکاټ جوړولو لپاره کار کوي. د دواړو خواوو ترمنځه ملاقات د 2015 په جولای کې ترسره شو ، خو دغه هڅې په 2013 کې د طالبانو د مشر ملا محمد عمر د د مرګ د خبر ترلاسه کېدو له امله ناکامه شوې ځکه چې دغه خبر د طالبانو ترمنځه د جګړې لامل شو. د 2016 په جنورۍ او فرورۍ کې د افغانستان او پاکستان لپاره د متحده ایالتونو ځانګړی نماینده سفارتکار ریچرډ اولسن د پاکستاني ، چینایي ، او افغانستان د حکومتونو سره غونډې وکړې. د یادې شوې مودې په اوږدو کې د جمهوریت ، بشري حقونو ، او کارګرانو لپاره مرستیال ایالتي سیکتر ټام مالینوسکي چا چې دې هېواد ته د 2015 په اپریل کې سفر وکړ ، د متحده ایالتونو نورو دولتي چارواکو د افغانستان دورې وکړې. د 2015 په مارچ کې ، ولسمشر غني او اجرائیوي رئیس عبدالله متحده ایالتونو ته ولاړل. په متحده ایالتونو کې غني د ولسمشر اوبامه او خارجه سیکتر کیري سره وکتل او د متحده ایالتونو کانګرې ګډې غونډې ته یې وینا وکړه.

پر متحده ایالتونو او بهرنۍ مرستې د افغانستان تکیه په نژدې راتلونکې کې د تغیر امکان نه لري. د ټوکیو د دوه اړخیزه مسؤولیت د چوکاټ له لارې متحده ایالتونو او نورو نړیوالو بسپنه ورکوونکو ژمنه کړې وه چې د 2015 په اوږدو کې به افغانستان ته 16 میلیارده مرسته ورکوي او د 2017 په اوږدو کې به هم په دغه معیارونو مرستې ورکولو ته دوام ورکوي. د افغانستان د بیارغونې لپاره د متحده ایالتونو د ځانګړې عمومي پلټونکي د وینا سره سم ، متحده ایالتونو له کال 2002 راسې په افغانستان کې په ګډون د امنیت لپاره د 68.44 میلیارده ډالرو ، د حکومت او پرمختګ لپاره د 31.79 میلیارده ډالرو ، د بشري مرستې لپاره د 2.93 میلیارده ډالرو ، او د مدني فعالیتو لپاره د 9.94 میلیارده ډالرو ، د هوساینې او بیارغونې لپاره شاوخوا 113.09 میلیارده ډالره اختصاص کړي دي. په کال 2015 کې د افغانستان لپاره ټول USAID او د ایالتي شعبې بشری مرسته 182.9 میلیونه ډالره وه. د 2015 په مارچ کې ، خارجه سیکتر کیري اعلان وکړ چې د متحده ایالتونو حکومت به 800 میلیونه ډالره اختصاص کوي چې په افغانستان کې د اداري فساد سره مبارزې کولو ، د قانون حکمراني پر مخ بیلو ، د ښځو حقونو پیاوړي کولو ، او د شخصي سیکتور وده لا زیاتولو لپاره د "نوي پرمختیایي ونډه والی" مرسته وکړي.

**توصیې**

په داسې حال کې چې دا تسلیموو چې د افغانستان دولت د طالبانو او نورو توند روه افراطي ډلو سره په جګړه کې د مهمو ننګونو سره مخامخ دی او په عمومي توګه دا وړتیا نه لري چې مذهبي او توکمیزې ټولنې له توندروو بریدونو څخه وژغوري ، USCIRF دا توصیه کوي چې د متحده ایالتونو حکومت باید:

- د افغانستان ولسمشر او اجرائیوي رئیس سره د مذهبي ازادۍ اهمیت نېغ په نېغه راپورته کړي ، د افغانستان دولتي چارواکي دې ته وهڅوي چې دغه حق په ډاګه مخ پر وړاندې بوزي او په افغانستان کې د مذهب او ټولنې د چارو په اړه د بېلابېلو مذهبي نظرونو لپاره یو مدني ځای تخلیقولو لپاره کار وکړي ؛

- دولت دې ته وپاروي چې د افغانستان اساسي قانون او قوانین اصلاح کړي د دې لپاره چې د مذهب یا ګروهې د ازادۍ نړیوالو معیارو سره برابر شي ، په ګډون د دې چې د 2004 د رسنیو هغه قانون له منځه وړلو کوم چې هغه لیکنې غیرقانوني بلی کومې چې غیراسلامي ګڼل کیږي او د 2007 هغه قانوني لایحې کومه چې وایي چې بهایي ګروهه د کفر ده او دې اووښتونکي مرتدان دي ؛

- په افغانستان کې د مذهبي ازادۍ په اړه د متحده ایالتونو د دولت د اژانسونو ترمنځه کاري قوه بیا ژوندۍ کړي او دا باوري کړي چې د مذهبي ازادۍ ستونزې د افغانستان په اړه د ایالتي او دفاعي شعبې په ستراتیژیو کې په مناسبه توګه یوځای کړل شي ؛

- د متحده ایالتونو او افغانستان ترمنځه ستراتیژیکي خبرو اترو او څلور اړخیزه انسجام ډله (متحده ایالتونه ، پاکستان ، چین ، او افغانستان ) کې د مذهبي ازادۍ په اړه ځانګړې کاري ډله شامل کړي ؛

- د افغانستان دولت دې ته وهڅوي چې سره له اداري او نیم اداري مذهبي ډلو د ګروهو ترمنځه د خبرو اترو د ابتکار تضمین ونیسي کوم چې د اسلامي ډلو ترمنځه خبرې اترې او د بېلابېلو ګروهو سره بوختېدو ته پاملرنه کوي ؛ او

- دا باوري کړي چې د بشري حقونو موضوعات د پخلاینې په پروسه کې شامل کړي او دا چې د سولې کوم تړون کوونکې خواوې دا ژمنه وکړي چې د بشري حقونو نړیوال منشور او د افغانستان اساسي قانون دواړه حمایه کړي.